هاري

واشنګټن 23/04/2009

# د ایران امریکایي اتل

**نوټ:**

فرناز کلیفي، علي دادپی، او پویان مشایخي د اپریل پر ۱۹، ۲۰۰۹ د نیویارک ټایمز په ورځپاڼه کي "د ایران ینکي اتل" تر عنوان لاندي یو ډېر په زړه پوري مطلب خپور کړی دی. کیسه د ایران مشروطیت انقلاب ده. د ایران همدا مهم سیاسي پېر چي له ۱۹۰۵ څخه شروع کېږي او تر ۱۹۱۱ پوري رسېږي، د ایران په تاریخ کي د ازادی، مشروطیت، او اساسي قانون د مبارزاتو زرینه دوره ګڼل کېږي. د اکثرو ایراني سیاسي ډلو څرک په همدې دوره کي باید وڅېړل سي. په عین حال کي، د شلمي پېړی په لمړی لسیزه کي، د افغانستان مشروطیت نهضت هم منظم کېده. همدا، کلونه په ټول شرق کي د هیلي، ازادی، او مشروطیت د خوځښتونو پېر دی. تر ټولو مهمه مسله دا ده چي پدې پېر کي په افغانستان، ایران، او حتی ګرده مینځني ختیځ کي نشنلسټ او سیکولر مبارزینو مخکښ نقش لره. همدا وجه ده چي پدې دوره کي تاریخ مخ په وړاندي حرکت کوي، نه نن ورځي په شان چي مذهبي ډلګیانو د تاریخ په شا ټمبولو ته ملاتړلي ده. څرنګه چي مطلب لنډ او په زړه پوری دی نو بنا بشپړ ترجمه سوی‌دی.

**متن:**

ښایي فقط د ګوتو په شمار امریکایانو د هاورډ کانکلین بسکرویل نوم اورېدلی وي، مګر د هغه د نامه سره اکثره ایرانیان اشنا دي. ښاغلی بسکرویل د متحده ایالاتو د نیبراسکا ایالت وو. کله چي بسکیرویل د پرینسټن مدرسي څخه فارغ سو، سمدستي ایران ته د مسیحیت د تبلیغ په منظور روان سو. پدې وخت کي هغه ۲۳ کلن وو. دا وخت کال ۱۹۰۷ وو. بسکیرویل ځوان او ایډیالسټ وو، او په عین زمان کي، په ایران کي هم ایډیالیزم غرېِ وهلی.

ایران ته د بسکرویل تر رسېدو یو کال مخکي، د ایران ناروغه پاچا، مظفر الدین شاه، بالاخره د عامه ایرانیانو د فشار له کبله د مشروطیت او اساسي قانون سره موافقه وکړه، او ایران پخپل دوه نیم زره کلن تاریخ کي د لمړی ځل لپاره د اساسي قانون خاوند سو. یو پارلمان- مجلس- تاسیس سو، په هر ولایت کي ښاري شوراګاني انتخاب سوی. پدې وخت کي، ښاغلی بسکرویل په تبریز کي په یوه مکتب کي معلم وو. په عین حال کي، تبریز د مشروطه غوښتونکو یوخ مرکز وو، او د تبریز ښاري شورا په ملي سویه مخکښ رول لوباوه. اکثرو ایرانیانو ګومان کاوه چي د بدلون وخت را رسېدلی دی.

خو د ایران ناجوړه پاچا په ۱۹۰۷ کي مړ سو، او د هغه زوی محمد علي شاه چي له یوې خوا پر روسانو مین وو او له بلي خوا مستبد او د مشروطه انقلاب سخت مخالف وو، پاچا سو. د هغه سلطنتي عسکرو چي روسي افسرانو یي قومنداني کوله، پر مجلس باندي یرغل وکړ. سمدستي، اساسي قانون لغو سو. سیاستوال، ژورنالیسټان، او د مشروطه انقلاب مشران غر غره سول.

لدې نه پس، سلطنتي قواوو تبریز محاصره کړ. تبریزیانو مقاومت او مقابله غوره کړه. ښاغلی بسکیرویل ددي پر ځای چي د امریکا په قونسلګری ننوځي او خپل سر او ژوند وساتي، د بي وسلو او کلا بندو تبریزي مشروطه غوښتونکو او مبارزینو په مقدم صف کي ودرېد. ځوان امریکایي ایډیالسیټ به ویل،" زما او ایرانیانو تر مینځ یوازنی غټ توپیر زموږ د زېږېدو مختلف ځآیونه دي، خو دا مهم توپیر ندی."

د تبریز د مقاومت په ترڅ کي، بسکرویل د ۱۵۰ ایراني مشروطه غوښتونکو مبارزینو قومندان وو او وظیفه یي د ښاري دفاعي استحکاماتو ساتل او دفاع وه. د مقاومت په دریمه اونی، د اپریل ۱۹، ۱۹۰۹، بسکرویل ته ماموریت ورکړه سوو چي د ښار محاصره ماته کړي او ښاریانو ته ډوډی او خوراکي مواد برابر کړي. بسکرویل د خپلو یارانو سره یو ځآی نبغ په نبغه پر سلطنتي قواوو برید ښخ کړ، او په نتیجه کي یوه مرمی د بسکرویل تر زړه سیده ووته، او ځآی پر ځای یي شهید کړ. هله، بسکرویل د ۲٤ کالو او ۹ ورځو وو.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بګیرید
maqalat@afghan-german.de

سږکال د اپریل پر ۱۹ د هغه د مرگ سلم تلین دی. که څه هم، د ایران او امریکا اړیکي خړي پړي دي، خو بسکرویل تر اوسه هم د امریکایي اصولو، قدرونو، او خیالونو د یوه رشتین استازی په توگه په ایران کي لمانځل کیږي. په ۲۰۰۵ کي، جمهورریس محمد خاتمي د تبریز د اساسي قانون په ودانۍ کي د ښاغلي بسکرویل یوه مجسمه کښېښوده. تر اوسه پوري په تبریز کي د هغه پر قبر باندي هره ورځ یو څوک تازه ژړ گلونه اېږدي. د ایرانیانو لپاره هاورډ بسکرویل د ایران امریکایي شهید دی.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de